# كله چې په تاسو کې يو څوک مجلس ته لاړ شي نو په خلکو دې سلام واچوي او کله چې غواړي ترې لاړ شي نو بيا دې هم پرې سلام واچوي، ځکه لومړی سلام د وروستي سلام په اړه کوم ځانګړی لومړيتوب نه لري

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "کله چې په تاسو کې يو څوک مجلس ته لاړ شي نو په خلکو دې سلام واچوي او کله چې غواړي ترې لاړ شي نو بيا دې هم پرې سلام واچوي، ځکه لومړی سلام د وروستي سلام په اړه کوم ځانګړی لومړيتوب نه لري".
[حسن] [أبو داود، ترمذی، نسائی په الکبری کې او أحمد روايت کړی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم لارښوونه کړې چې څوک يو مجلس ته لاړ شي، نو پر هغوی دې سلام واچوي، او کله چې غواړي له هغه ځايه بېرته ولاړ شي، نو په سلام سره دې الله په اماني وکړي، ځکه د راتلو پر مهال لومړی سلام د الله په امانۍ پر مهال په دويم سلام کوم لومړيتوب نه لري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3173